# مطبوعاتي خبرپاڼه

**د ملګرو ملتونو پرمختیايي اداره**

**مرکزي دفتر، شاه محمود غازي واټ، کابل افغانستان**

## وتلی افغان سندغاړی فرهاد دریا د ملګرو ملتونو د پرمختیايي ادارې د ښه نیت د ملي سفیر په توګه وټاکل شو

کابل، ۱۷ حوت

نامتو سندغاړی، هنرمند او د بشري حقونو مدافع فرهاد دریا په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختیايي ادارې د ښه نیت د ملي سفیر په توګه ټاکل شوی دی. دغه ټکی نن په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختیايي ادارې د استوګن استازي ښاغلي بو اسپلنډ له خوا اعلان شو.

فرهاد دریا د اتیایمې لسیزې تر نیمايي راهیسې یو له هغو سندرغاړو څخه دی چې پر خلکو یې ډیره اغیزه شیندلې او د افغانستان په معاصره موسیقي کې د خلاقیت، عشق او بدلون یوه نمونه ګڼل کیږي. دی یو له هغو ګوته په شمار هنرمندانو څخه دی چې د افغان موسیقي دودیز جوړښت، د سازونو ترکیب او اواز ته یې یوه نوې بڼه ورکړې ده. خو د ژوندانه په نورو برخو کې د ده د کار او ونډې له امله دی یوازې یو موسیقي دان نه بلکې له دې هم پورته دی. دی د بشري حقونو مدافع دی او د له پامه غورځول شوو ډلو د حقونو د خوندیتوب په ګڼو ملي او بین المللي پروژو او فعالیتونو کې ونډه لري.

خبریالانو ته د خبرو پر مهال په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختیايي ادارې استوګن استازي وویل "د ملګرو ملتونو پرمختیايي اداره ویاړي چې دریا د کورنۍ د یوې برخې په توګه له ځان سره لري. دریا چې د افغانانو د اوسني نسل لپاره د ښه کردار یو مثال دی د خپلو سندرو او شخصیت په مټ نړۍ ته افغانستان د شخړو او مایوسۍ د هېواد پر ځای د هیلو او امیدونو د هېواد په توګه وروپېژندلی دی. موږ هیله لرو چې له دریا سره به د هېواد په ګوټ ګوټ د سولې او پرمختیا د پیغامونو د خپرولو لپاره ګډ کار وکړو"

دریا د افغانستان په سترو ژبو لکه پښتو، دري، ازبکي او هزارګي او بهرنیو ژبو لکه اردو انګلیسي او داسې نورو کې د پام وړ سندرې لیکلې او ویلې دي. ده تل هڅه کړې چې هغه زرونه چې سیاست سره جلا کړي د موسیقي د وریښمو په تار سره وتړي. د ده موسیقي د یو ازاد او یو موټي افغانستان ښکارندویه ده. دریا په نړۍ کې د موسیقي او بشري حقونو په برخه کې د خپل کار په ویاړ ګڼې معتبرې جایزې ګټلې دي. ده ته د محرومو ډلو د حقونو د خوندیتوب او ودې لپاره د فعالیت په ویاړ په کابل کې د ۲۰۰۶م کال د بشری حقونو د فعال ملي جایزه ورکړای شوې ده.

د ۲۰۰۷ په نوامبر کې دریا د ملګرو ملتونو له پرمختیايي ادارې سره د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو په کمپاین کې برخه واخیسته چې د دغې مسلې په هکله د خلکو د اګاهي کچه لوړه کړي او ولسي خلک، په ځانګړې توګه زده کوونکي او ځوانان وهڅوي چې په دغه کمپاین کې فعاله ونډه واخلي. د ده دغې غوښتنې د ډیرو خلکو زړو ته لار وموندله. دریا پر نارینه وو غږ وکړ چې د بدلون راوستونکو او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د پای ته رسولو د هڅو د مهمو برخه والو په توګه له نوموړي کمپاین سره یو ځای شي. په کمپاین کې د ده شتون د دولتي چارواکو، زده کوونکو، اکاډمیکو کړیو، نړیوالې ټولنې او ولسي خلکو له خوا د پام وړ مثبت غبرګون سره مل وو.

په غونډه کې د خبرو پر مهال دریا وویل " د ملګرو ملتونو پرمختیايي ادارې په افغانستان کې د ژوندانه په بېلابېلو برخو کې بېشمیره خدمتونه ترسره کړي دي. زه ویاړم چې د ملګرو ملتونو د پرمختیايي ادارې په خیر د خیر ښیګڼې له ادارې سره د انسانانو د خدمت لپاره ګام پورته کووم. موږ به په ګډه هڅه وکړو چې د محرومو وګړو حقوق خوندي کړو او د افغانستان د ښې راتلونکې لپاره لا ډیر فرصتونه برابر کړو."

د دې خبرپاڼې په هکله د لاډیرو معلوماتو لپاره هیله ده له فضه حسیني، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختیايي ادارې د رسنیو له مسؤولې، سره د (**fezeh.hosseine@undp.org**) له لارې اړیکه ټینګه کړئ.